# د معلوماتو - مینځپانګي

Imprimé par Air France/Printed by Air France

HTTP://GRAPHISTE-SITEWEB.COM

دغه خپرونه د اروپايي ټولنې د مالي ملاتړ په مرسته توليد شوې ده. د دغې خپرونې د محتوياتو مسوليت يووازې د ،ECPAT د آلمان ،ECPAT په پروژه کې د شريکانو مسوليت دی: د بلجيم ReACT او د ECPAT د فرانسې نشي کولای د اروپايي ټولنې د نظرونو څرګندونه وکړي ،ECPAT او د انګلستان ECPAT هالنډ




د معلوماتو - مینځپانګې



د خيريه ټولنو/موسسو په اړه

## خيريه ټولنې څه شی دي

دا د دولت څخه مستقل سازمانونه دي چې د ماشومانو د مرستې لپاره جوړ شوي دي

تاسې کولی شئ دوی سره پخپله مستقيم اړيکه ونيسئ يا د يوه مسلکي شخص څخه غوښتنه وکړئ چې د مناسب خيريه ټولنې موندلو کې درسره مرسته وکړي

## دوی ستاسې لپاره څه کولی شي

دوی کولی شي اضافي مرسته او ملاتړ وړاندې کړي، لکه ټولنيز ګروپونه، مشوره، د انګلسي ژبې درسونه، وغيره

## تاسې بايد ولې دوی باندې باور وکړئ

دوی به ستاسې په ګټه کار وکړي او ستاسې حقونو باندې پوهيدو کې به درسره مرسته وکړي

د خيريه ټولنو/موسسو په اړه

## ګڼور خيرات/د موسسو اړيکې
(غيرعاجل)

**BARNARDO'S**
0800 043 4303
(24 hour)

**ECPAT انګلستان**
0207 607 2136
(9am-5pm)
www.ecpat.org.uk

**CORAM**
**د کورم د ماشومانو حقوقي مرکز**
0207 636 8505
(سه شنبه – پنجشنبه)

**REFUGEE COUNCIL**
0207 346 1134
(9am-5pm)
www.refugeecouncil.org.uk

**د ماشومانو ټولنه**
0208 221 8200
(9am-5pm)

**NSPCC د**
**د ماشوم قاچاق د مشورې مرکز**
020 3772 9513



د عمومي مرستې په اړه

## د عمر ارزونه

تاسې د خپل وکیل، سرپرست یا مشاور سره خبره وکړئ نو دوی به پدې اړه تاسې سره مرسته وکړي

که تاسې د خپل عمر ثابت کولو لپآره اسناد نلرئ، یا ستاسې اسناد د شک لاندې وي، ستاسې عمر ممکن وارزول شي





## تعلیم

تاسې حق لرئ چې وړیا تعلیم ته لاسرسی ولرئ او ستاسې ټولنیز کارکونکی باید مرسته وکړي چې دغه کار ترسره شي

## روغتیا

تاسې وړیا روغتیا ته د لاسرسي حق لرئ او کولی شئ په روغتونونو کې وړیا درملنه لاسته راوړئ



## وکیلان

په انګلستان کې په مختلف حالتونو کې تاسې د وړیا وکیل, حق لرئ، چې پدې کې دا موارد شامل دي

که تاسې د پناه غوښتنه وکړئ

که د دې شک لپاره دلیل شتون ولري چې تاسې قاچاق شوې یاست

که ستاسې عمر تایید شوی نه وي

که تاسې په کوم جرم محکوم شوې یاست

د محکمې د پروسې په اړه



اسې
کولی شئ د
وکیل موندلو کې
د خپل ټولنیز کارکونکي،
سرپرست/
مشاور یا
خیریه کارکونکي
څخه مرسته ترلاسه کړئ

د کډوالۍ په اړه

که تاسې د کوم بل هیواد څخه یاست، تاسې دلته اوسیدو لپاره د کورنیو چارو وزارت څخه اجازې ترلاسه کولو ته اړتیا لرئ

پدې معنی چې تاسې کولی شئ په انګلستان کې د قانوني پاتې کیدو لپاره د پناه، بشردوستانه محافظت یا د اوسیدو جواز لپاره غوښتنه وکړئ

تاسې به اړتیا ولرئ چې د خپلو اختیارونو په اړه د ټولنیز کارکونکي او د کډوالۍ وکیل سره وغږیږئ

مګر په یاد ولرئ، تاسې اړتیا نلرئ چې د ماشوم د محافظت سیستم څخه ګټه پورته کولو لپاره رسمي اسناد یا د کډوالۍ وضعیت ولرئ، چې دغه خدماتو ټولو هغه ماشومانو ته ورکول کیږي چې اړتیا ولري یا د خپلو کورنیو څخه جلا شوي وي

ستاسې د عمر په پام کې نیولو پرته تاسې کولی شئ د خپل ټولنیز کارکونکي او د کډوالۍ وکیل په مرسته د پناه غوښتنه وکړئ

دا ډیری وختونه اوږده او پیچلې پروسه وي نو په اړه یې پوښتنې وپوښتئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسې خپلو حقونو باندې پوهیږئ

ه انګلستان
کې
د کډوالۍ موخو لپاره
د ماشومانو په توقیف کې ساتل منع دي

## انساني قاچاق څه شی دی

تاسې یا ستاسې ملګرو څخه کومې یو ممکن د قاچاق قرباني وي، پرته لدې چې وړباندې پوهه شې

آیا تاسو په داسې یوه حالت کې راغلي یاست چې

جنسي عمل مو کړی وي یا جنسي عمل ترسره کړی

د مثال په توګه، د چا په کور کې د کور کار کول یا د ماشوم (پاملرنه، په فابریکه یا ریستورانټ کې کار کول

خیرات وغوابړی، غلا وکړی یا جرم وکړی

مخدره توکي وکړی، حمل ونقل کړی یا خرڅ کړی

د خرڅلاو لپاره د خپل بدن غړي راوباسی
پور د کار کولو له لارې یا د کوم بل خدمت وړاندې کولو له لارې بیرته تادیه کول

آیا کله تاسې/ستاسې کورنی

ګواښل شوي

که تاسي لدې پوښتنو څخه یوې ته د «هو» ځواب ورکړئ، نو ستاسي ملګری یا پخپله تاسي د قاچاق قرباني شوي یاست



## پولیس ستاسې لپاره څه کولی شي

پولیس ممکن تاسې څخه ډیری پوښتنې وپوښتي مګر هڅه وکړئ چې صادق اوسئ

تاسې کولی شئ د یوه باوري لوی شخص یا وکیل غوښتنه

وکړئ چې تاسې په مرکه کې مرسته وکړي

پولیس ستاسې خوندي ساتلو کې تاسې سره د مرستې لپاره دي

د مثال په توګه، تاسې باید پولیسو سره وغږیږئ که چیرې کوم څوک تاسې ګواښي، زیان درته رسوي یا د کوم داسې څه کولو ته مو اړ کوي چې ستاسې لپاره بد وي

تاسې باید د کوم داسې شي لپاره مجازات نشئ چې تاسې یې د ترسره کولو لپاره په زور اړ ایستل شوي یاست، حتی که غلط/ غیرقانوني هم وي

**پولیس**
**999**





تاسې ته به استوګنه ورکړل شي مګر دا د هرځوان وګړي لپاره توپیر لري

ځان پدې اړه ډاډه کړئ چې د خپل ټولنیز کارکونکي سره د خپلو ترجیحاتو په اړه وغږیږئ

ستاسې ټولنیز کارکونکی به یو پلان جوړ کړي چې باید

په اړه یې تاسې سره خبرې وشي

د دې خبرې په پام کې نیولو سره چې تاسې د انګلستان په کوم ځای کې یاست، تاسې ته ممکن یو

خپلواک سرپرست یا مشاور هم وټاکل شي چې هغه به د هرڅه واضح کولو کې تاسې سره مرسته کوي او په ورته وخت کې به ستاسې د حقونو لپاره درسره مشوره کوي



په انګلستان کې که وکتل شي چې تاسې د خطر

سره مخ یاست یا له خپلې کورنۍ څخه جلا شوي یاست

تاسې ته به یو ټولنیز کارکونکی وګومارل شي ،

د هغه یا د هغې رول به د مرستې، استوګنې او ملاتړ چمتو کول وي

د همدې لپاره تاسې باید صادق اوسئ ځکه چې دا به د ټولنیز کارکونکي لپاره اسان وي چې تاسې سره مرسته وکړي او تاسې ته د اړتیا وړ ملاتړ چمتو کړي که چیرې هغه ستاسې د کیسې او توقعاتو په اړه پوهه شي



## د ویریدو پرته

### ورک خلک

د مشورې او ملاتړ لپاره که تاسې ورک شئ یا وتښتئ

تلیفون وکړئ یا پیغام واستوئ

116 000

وړیا، 24 ساعتونه او محرم

### د عصرېمري توب (غلامۍ) د مرستې لیکه

د راپور ورکولو لپاره که تاسې فکر کوئ چې استسمار شوي یاست

0800 0121 700

وړیا، 24 ساعتونه او محرم

### د ماشوم لیکه

د ماشومانو لپاره عمومي معلومات او مشوره

0800 1111

وړیا، 24 ساعتونه او محرم

یا لدې ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ

childline.org.uk

د یوه جرم په اړه راپور ورکولو، یا که تاسې د خپل ځان یا د کوم بل چا د محافظت په اړه ویره لرئ، پولیسو

ته تیلیفون وکړئ

999

## تاسې حق لرئ چې وغږېږئ

په اړه یې پوهېدل ښه دي

تاسې د وړیا ژباړونکي حق لرئ که انګلسي ستاسې لومړۍ ژبه نه وي

(مګر ځینې وختونه دا د تلیفون په واسطه ترسره کیږي)

په پیل کې هڅه وکړئ ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسې ژباړونکې ستاسې لهجه باندې پوهیږئ

مسلکیان

پولیس افسران، وکیلان، سرپرستان/وکیلان، ټولنیز کارکونکي

خیریه کارکونکي، قاضیان، ډاکتران وغیره ،

هغه خلک دي چې تاسې وربانديې باور کولی شئ

د

خپلو حقونو په اړه

وپوښتئ او هغه شیان

وننګوئ چې تاسې

ورسره موافق نه یاست



تاسې ماشوم یاست که عمر مو له 18 کلونو څخه کم وي

په انګلستان کې جلاشوي ماشومان

# ستاسې حقونه څه دي ؟

ستاسو

د ګټې لپاره ځيني

ګټوري مشورې او اړیکې

د اروپايي ټولنې لخوا په ګډه تمويل شوی